# نړیوالو اقتصادي نظامونو ته یوه ځغلنده کتنه

**لیکنه** حشمت الله عتید


---

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند اخري شپېږ وې، د ژوند اخري کار یې حجت الوداع و چې ورپسې د قران کریم دغه آیتونه نازل شول: الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتي ورضیت لکم الاسلام دینا.الله تعالی فرمایي: ما ستاسو دین پوره کړ په تاسې مې نعمت پوره کړ او ســــتاسو له پاره مو اسلام دین غوره کړ.

د دې ایت په اوریدلو سره حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه وژړل، یو چا ترې وپوښتل، چې څه شی دي ژړوي ای ابو بکره؟ دا ایت هم د نورو ایتونو په څېر یوایت دی چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نازلیږي! نو ابو بکر صدیق رضي الله عنه وفرمایل: دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات خبر دی.

اسلام یو مکمل نظام دی چې ټول انسانیت ته د ارامه او هوسا ژوند کولو لاره ښیي. اسلام نه یوازې د مسلمانانو په مذهبي کړو وړو پورې تړلی بلکې یو الهی دین دی چې احکام یې د ژوندانه په هر اړخ پورې تړاو لري. کله چې اسلام د انساني ژوند عادي چارو له پاره هم لارښوونې او کړنلارې لري؛ نو د اقتصاد په څېر د ژوند حیاتي اړخ به ولې پاتې کېږي.

باید په یاد ولرو چې کامیابي یوازې د اسلام د اقتصادي نظام په پلي کولو نه تر لاسه کیږي؛ ځکه چې اقتصاد زموږ د ژوندانه د مجموعي نظام صرف یوه برخه ګڼلی شي، مسلمان تر هغې نشي کامیابېدلی ترڅوچې د خپل ژوند په ټولو برخو کې اسلامي احکام پلي نه کړي. اسلام هم لکه یو جوړښت باید بشپړ پلی شي. الله تعالی فرمایي: یاایهاالذین آمنوا ادخلو فی السلم کافة... «ژباړه: ای هغو کسانو چې تاسو ایمان راوړی، تاسو ټول یو ځای په بشپړه توګه په سلم یعني اسلام کې ورګډ شی.» مذهبي ژوند، اجتماعی ژوند، سیاسي ژوند، اخلاق، فکر او ټول کړه وړه د یو مسلمان باید د اسلام داصولو په رڼا کې پرمخ ولاړ شي ترڅو وکولي شي کامیابي ترلاسه کړي، نو ځکه مسلمانانو ته لازمه ده چې باید د وخت د ضرورتونو مطابق یو پرمختللی اقتصادې نظام ولري.




په نړیواله کچه تر ننه ټولټال درې نظامونه وجود لري: لومړی پانګه وال نظام چې په انګلیسي ژبه کې ورته کپیټلیزم وايي؛

دوهم اشتراکي نظام چې انګلیسي کې یې سوشلیزیم بولي؛

او درېیم داسلامي اقتصادي نظام دی.

مخکې له دې چې نړیوال اقتصادي نظامونه وپیژنو لومړی پر دې خبره بنايي پوه شو، چې خپله اقتصاد څه ته وايي؟ اقتصاد له Economicsڅخه اخیستل شوی او اکنامکسبیا د یوناني ژبې له oikonomiaڅخه اخیستل شوی چې oikos د کور او nomosد دود، رسم او قوانینو معنا لري، چې په انګلیسي کې ورته

(Management of a Household) په عربي کې علم تدبیرالمنزل، دري یا فارسي کې مدیریت خانه داري او په پښتو کې ورته د کور د اړتیاوو مدیریت ویلی شو.
او په اصطلاح کې اقتصادهغه علم دی، چې موږ ته له کمو سرچینو (منابعو) څخه د زیاتو غوښتنو د پوره کولو هنر رابښیي. داپه دې معناچې د یو انسان سره د شته وسایلو کارول په داسې توګه چې ضروري اړتیاوې یې پوره کړای شي، دې ته د اقتصاد علم ویل کیږي.د اقتصاد په ټولو نظامونو کې دا یو منل شوی حقیقت دی چې تل د انسان اړتیاوې او غوښتنې له هغه سره دشته وسایلو په پرتله زیاتې وې، پوښتنه پیدا کیږي چې دغه نه تمامیدونکې اړتیاوې او غوښتنې په څه ډول د کمو او د ګوتو په شمار وسایلو پوره کړای شي؟ د اقتصاد علم د همدې پوښتنې د ځوابونې هڅه کوي.
پانګه وال نظام (Capitalism)
پانګه وال نظام د لویدیځ د لیبرال ډیموکراسي اقتصادي مفکوره ده. د لویدیځ سیاسي او ټولنیز نظام د لیبرالیزم او ډیموکراسی پر بنسټ ولاړ دی، چې اقتصاد یې بیا د کاپټالیزم له لارې چلول کیږي.
پانګه وال اقتصادي نظام هغه سیستم دی په کوم کې چې د یوه ملک فابریکې او د سوداګرۍ راکړه ورکړه د دولت پر ځای د عامو وګړو شخصي ملکیت ګڼل کیږي او ټول خلک د خپلو شخصي ګټو لپاره کار کوي. داسې چې هر انسان دې په اقتصادي منډو ترړو کې ازاد او خپلواک پریښودل شي او کومه لار چې د ګټې د ترلاسه کولو لپاره غوره وبولي هغه دې ورته پرانیستی پریښودل شي؛ ځکه چې له خپلواکۍ وروسته هر انسان په دې لټه کې وي چې تر هرڅا زیات عواید ترلاسه کړي او تر ټولو زیات کار وکړي، دغه نظام انسانانو ته دومره خپلواکي ورکړې چې حتا یو انسان د زیاتو ګټو او عوایدو د ترلاسه کولو لپاره په ناروا او حرامو کارونو هم لاس پورې کولی شي لکه د شرابو خرڅول، د خنزیر غوښه او همدا راز لوڅ فلمونه خرڅول او حتا یو پانګه وال دا هم کولای شي چې په ټول بازار ولکه یا انحصار ټینګ کړي بلکې په ټول بازار باندې خپته اچول خپل اذلي حق ګڼي، داسې چې بازار ته د یوه توکي واردول تر یوه کس او یا هم یوه ټولي پورې ځانګړي کړای شي، چې له هغوی پرته به یې بل څوک بازار ته وارد نشي کړای او د دې ولکې یا اجاره داری یو رښتیني بده پایله به دا هم وي چې عام وګړي به اړ وي چې د اړتیا وړ توکي له ټیکه لرونکو څخه د هغوی په ټاکل شوې بیه واخلي ولو که د بازار د اصلي ارزښت څخه ډیر اوچت هم وي،چې په انګلیسي ژبه کې دغه انحصار ته (Monopoly) ویل کیږي.
دلته یوه خبره د پام وړ ده، چې لویدیځ کې اوس یو بشپړ سیکولر سیسم واک چلوي. دغه سیکولر سیستم د فرانسي له ستر انقلابه (۱۷۷۹) وروسته په لویدیځ کې یو منل شوی نظام دی. لویدیځ د دین له راجه ځان خلاص کړی، هلته د انسان او د انسان د عقل حاکمیت دی. هر څه چې د انسان ذهن ته ښه ورځي هماغه

پلي کېږي، هلته بشپړ عقلانیت (Rationalism) واکمن دی، چې د قانون او نظام د بنسټ ډېره ګڼله کېږي. اقتصادي نظام يې هم پر همدې انددود تکیه لري.

په پانګه وال نظام کې هرڅه د رسولو او غوښتلو دقانون (Law of Supply and Demand) له مخې تر سره کيږي، د نړۍ دغه دوه خدايي څواکونه رسول (Supply) د سوداګرو هغو مالونو ته وايي، چې دوی يې بازارونو ته د پلورلو يا خرڅولو لپاره راوړي او غوښتل (Demand) د پيريدلو يا اخيستلو هغه نيت او غوښتنې ته وايي چې په پايله کې يې دغه توکي يا مالونه له بازاره به بيه اخلي يا رانيسي.

دا چې يو توکی په څومره پيمانه او کوم وخت کې توليد شي؟ (يعنې بازار ته د دغه توکي رسول يا (Supply) په کومه پيمانه وشي) د دې پوښتنې د ځوابولو لپاره به د مارکيټ حالت ته کتل کيږی، چې په بازار کې د نوموړي توکي غوښتنه يا (Demand) څومره دی؟ په همدې شکل ټول توليدات به د بازار د غوښتنې مطابق وي.

د رسولو او غوښتلو د قانون بشپړه پيژندنه د اسلامي بانکدارۍ مخکښ عالم محمد تقي عثماني داسې کړې ده: «د کوم توکي رسونه چې د غوښتنې په پرتله بازار کې زياته شي په دې سره يې بيه هم رالوېږي، دغه راز چې غوښتنه يې له رسونې زياته شي بيه يې لوړيږي، د بيلګې په ډول: کله چې په اوړي کې د تودوخې درجه لوړيږي ورسره په بازار کې د واورې پلورنه هم زياتيږي، اوس که چيرته د بازار ټوله واوره د غوښتنې په پرتله کمه وي بيه به يې خامخا لوړيږي، هو! که چيرته يې په واردولو کې د غوښتنې په اندازه زياتوالی راشي، بيا يې بيه نه لوړيږي، بل لور ته څرنګه چې په ژمي کې د واورې خرڅلاو کميږي ورسره د واورې بيه هم لويږي. اوس که چيرته د بازار ټوله واوره د هغې د غوښتنې په پرتله زياته وي بيه به يې هم کمه وي، د اقتصاد په اصطلاح کې دغه طبيعي قانون د غوښتلو او رسولو په نامه يادېږي چې په پانګه وال نظام کې هرڅه د همدغه قانون له مخې ترسره کيږي؛ خو د غوښتلو او رسولو دغه قانون د اقتصاد په ډګرونو کې يو والی او انډول يوازې هغه وخت راوستلای شي کله چې په بازار کې ازاد رقابت ( Free Competition) روان وي او که چيري ټول بازار باندې د يوڅو محدودو کسانو ولکه وي نو بيا به په بازار کې انډول او د بيو برابروالی په هيڅ صورت شونی نه وي.

په دې وروستيو کې په ځانګړې ډول د کمونيزم له ړنګيدو وروسته پانګه وال نظام په نړۍ کې ډېر په چټکۍ سره وده وکړه، چې زياتره اسلامي هيوادونه يې هم تر خپل اغېز لاندې راوستل او حتا اوس يې ريښې په افغانستان کې هم په خوريدودي اودځينو له خوايې تودهرکلی کيږي؛ خوکه چيرې موږددغه نظام اصل او بنسټ په دقيق ډول مطالعه کړو نو پايلې به يې وېروونکې وي.

یاد نظام دغریب غربت دهغه خپله نااهلي اوازلي ویش ګڼي او له بله پلوه دژوند دوسایلودتولیدپه ذریعو اودهغوي په مارکیټونوباندی خیټه اچول اوانحصارخپل دایمي حق ګڼي اوبیا له دغولارو څخه لاسته راوړی ثروت یا خو زیرمه کوي او یا هم داسراف او تبذیر په طریقه یې داسې لګوي چې هیڅ اقتصادي قاموس یې روانشي ګڼلی، دبیلګې په توګه که چیرې د دغه نظام پیروان یوازی دخپلې ساتیری،ځان ښودنې اومشغولاپه لاروکې مصرف کوونکی ثروت په هغه لار ولګوي چې اسلام ټاکلی دی په ټوله بشري نړی کی به یو غریب هم پاتې نه شي، په داسی حال کې چې همدا اوس په جنوبي افریقا کې هر کال په زرګونو خلک، انسانان دغربت په اورکی سوځي، مګر دوی چې په درواغو باندې دبشردوستی لاپې وهي په خوارانو هیڅ زړه سوی نه کوي اونه پرې خواشیني کیږي اوبیاهم د انسانیت دعوې داران دي. دوي خو ددې پرځای چې فقر ختم کړي، وږي انسانان ماړه کړي د دغه نظام دا قاروني مجنونان دهمدردۍ اوبشردوستۍپه نوم دخپلومنافعولپاره غربت ته نوره هم وده ورکوي؛ ځکه چې دوی دبشردوستی اوهمدردۍ حقیقي معنا پرېښې ده اوهغه داچې د نورو ګټه دځان ګټه اودنورو تاوان دځان تاوان وګڼي. حتا دانسانانودختمولو لپاره په ملیاردونو ډالره لګوي، جنګي وسایل تقویه کوي خپله بودیجه دبشري نړۍد نظام دفسادپه لاره کې لګوي نه دسمون په لاره کې.

لکه څرنګه چې پانګه وال نظام غربت د غریبانو خپله بیکاري او نا اهلي ګڼي همدا راز د مکې په مخورو مشرکینو کې هم دغه ذهنیت ډېر عام ؤ، الله پاک په قران کې فرمایي:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنْفِقُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللهُ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنُطْعِمُ مَنْ لَوْ يَشَاءُ اللهُ أَطْعَمَهُ إِنْ أَنْتُمْ إِلاَّ فِي ضَلاَلٍ مُبِينٍ. (سورت یسین ۴۷ ایت)

ژباړه: او کله چې وویل شي دوی ته چې نفقه ورکړئ یا کوئ (عاجزانو ته) له ځینو هغو مالونو چې رزق روزي درکړې ده تاسي ته الله نو وایي هغه کسان چې کافران شوي دي (له جهته د استهزا) هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی ایا طعام ورکړو موږ هغه چاته که اراده فرمایلې وی الله نو طعام به یې ورکړی و هغه ته، نه یئ تاسې مګر په ګمراهی ښکاره کې.

اشتراکي نظام (Socialism)

دغه نظام په حقیقت کې د پانګه وال نظام د غبرګون په توګه منځ ته راغی. لکه څرنګه چې کمونیزم د لویدیځ انفرادیت نقدوي او پر ځای یې پر ټولنیزو ګټو باوري دی، دغسې یې په اقتصادي اړخ کې هم د فرد پر ځای د ټولنې د ګټې په لټه کې دی. په دې نظام کې د پانګه والو هغه مفکوره چې هر انسان دې د ګټې د لاسته راوړلو لپاره خپلواک پرېښودل شي او د اقتصاد هره ستونزه دې د غوښتلو او رسولو د قانون پر بنسټ اواره

کړای شي، په اشتراکي نظام کې دوی دغه نظریه بلکل ردوي او وایي که چیرې هر انسان خپلواک پرېښودل شي نو ټول به د ځاني ګټلو لپاره کار کوي او د بشري یا اجتماعي ګټو احساس به له یوې مخې ختم شي.

اشتراکي نظام څلور اساسي اصول لري:

لومړی دا چې د عوایدو وسایل لکه ځمکه، فابریکې او داسې نور د هیچا شخصي ملکیت نه بلکې ټول به ټولنیز ملکیت ګڼل کیږي او د حکومت تر څارنې لاندې به کار کوي.

دوهم دا چې ټولې اقتصادي پریکړې به د خلکو پرځای د حکومت له طرفه وي، دا چې کوم وسایل د کوم توکي په تولید وګومارل شي او کوم توکي دې په څومره اندازه تولید کړای شي دا ټولې پریکړې به د حکومت له جوړ شوي پلان سره سم تر سره کیږي.

دریم دا چې اشتراکي نظام د پانګه وال نظام برعکس د شخصي ګټو پر ځای په ټولنیزو ګټو ټینګار کوي، دغه نظام دعوه کوي چې د پانګه وال نظام ټولې اقتصادي لارې چارې یوازې د وګړو د شخصي ګټو تر څنډې څرخیږي راڅرخیږي خو په اشتراکي نظام کې ټول پلانونه د ټولنیزو ګټو پر بنسټ ولاړ وي.

څلورم دا چې په اشتراکي نظام کې له تولیداتو څخه لاسته راغلي عواید باید د خلکو ترمنځ په عادلانه ډول وویشل شي، د یوه غریب او مالدار ترمنځ باید په لاسته راوړنو کې هیڅ توپیر نه وي.

د دې نظام بدې اغیزې به دا وي که چیرې د ټول هیواد د تولید وسایل د انسانانو یوه ټولي یعنې په حکومت کې د واک په ګدۍ ناستو کسانو ته وسپارل شي؛ نو دهغوی په نیتونو او ارادو کې د خرابۍ د راتلو له امله به ټول هیواد د دې کار د بدو پایلو سزاګانې ګالي. بله دا چې د اشتراکي نظام د پلانونو پلي کول د یوه زورور او ظالم حکومت له واکمنۍ پرته شونې نه دي؛ ځکه د ټولو خلکو په دې خبره باندې را یوځای کول چې هر سړی دې د خپلې خوښې پرځای د حکومت له خوښې او پلان سره سم کار وکړي یوه ځواک ته اړتیا لري او هم به د خلکو هر ډول خپلواکۍ وځپي.

دریم دا چې په اشتراکي نظام کې د شخصي ګټو محرک بیخي له منځه ځي چې له منځه وړنه یې د خلکو په سوداګریزو او ورځنیو چارو ډیره بده اغیزه کوي، هغه داسې چې هر انسان به فکر کوي چې که چیرې زه لږ کار وکړم یا ډیر کار وکړم په دواړو حالاتو کې به مې لاسته راړنې یوشان وي. نو په دې توګه د ښه کار کولو جذبه ځپل کیږي او له منځه ځي، د مکافاتو او مجازاتو اصل له پامه غورځول کېږي، د شخصي ګټو محرک د انسان ویده صلاحیتونه راویښوي او د نویو مصنوعاتو جوړولو ته یې هڅوي، که څه هم دغې فطري جذبې ته د یوې ولکې اړتیا خامخا شته مګر د هغه له یو مخ له ځپلو سره ډیر صلاحیتونه له منځه ځي د اشتراکي نظام دغه نیمګړتیاوې یوازې موږ په نظري ډول نه وړاندې کوو، بلکې د اشتراکي نظام لومړنیو تجربو دغه ټولې خبرې هغه وخت د عمل په میدان کې وښودلې کله چې د ازمایښت به لومړي ډګر

(روسیه) کې دغه نظام پلې کړای شو چې بیا له ناکامیدو وروسته د مخکنې شوروي اتحاد د ړنګیدو پر مهال د روسیي ولس مشر یلسن داسي اعتراف وکړ: «کاشکي د اشتراکیت د لامکان د نظریي دغه تجربه د دې پرځای چې د شوروي په څېر په یوه لوی هیواد کې و ازمویل شوه که د افریقي په یوه وړوکې سیمه کې ترسره شوي وای نو له ناخوالو څخه به یې د خلاصون په لار کې ۷۴ کاله نه لګیدل». [نیوزویک ورځ پاڼه]

د اسلام اقتصادي نظام

په نړیواله کچه د دوو مهمو اقتصادي نظامونو له بحث او شنني وروسته چې د اسلام پر اقتصادي نظام بحث کېږي، منصف څېړونکي دې ته اړباسي، چې د دواړو پورتنیو نظامونو کمي دلته جبران شوي او نواقص یې رد شوي دي.

اسلامی شریعت دټولو اقتصادي اوسوداګریزو روابطواومعاملاتو دپایداری،استحکام اوسلامتیا لپاره خپل خاص قواعد اواحکام وضع کړي او اسلامي بانکداري یې د پراخ اسلامي اقتصاد یوه کوچنۍ برخه جوړوي چې د بنسټ ډبره یې بلاسوده بانکداري ده. د دې ځانګړي سیستم اصلي سرچینه قرانکریم او نبوي احادیث دي، چې هلته سود په کلکه رد شوی؛ موږ د مسلمانانو په توګه دا هر څه منلي؛ خو اوس نړیوال اقتصادي ځمکني حقایق هم دا ثابتوي، چې سود بشري نړۍ ته له بې عدالتۍ پرته نور څه نه لري. قران کریم کې الله تعالی فرمایي:

«يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ(۲۷۸) فان لَّمۡ تَفۡعَلُواْ فَأۡذَنُواْ بِحَرۡبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَإِن تُبۡتُمۡ فَلَكُمۡ رُءُوسُ أَمۡوَٰلِكُمۡ لَا تَظۡلِمُونَ وَلَا تُظۡلَمُونَ ()» سوره بقره (۲۷۸-۲۷۹)

ژباړه: اې مؤمنانو! وویریږئ دالله (جل جلاله)څخه، او پریږدئ دسود هغه ګټې چې تاسو ته پاتې کیږې ( وروسته له دې چې له خلکو څخه دخپلو پورنو په مقابل کې سود واخلی)، که چیرې یاستی تاسو حقیقي مسلمانان، او که چیري مو پرینښودې دغه ګټې یعنې سود اخیستل؛ نو بیا د الله او دهغه له رسول (ص) سره د جنګ لپاره ځانونه تیار کړئ، او که غواړئ توبه وباسئ دسود اخیستلو څخه نو ستاسو لپاره رأس المال ستاسوخپل حق شته، مه په چا ظلم کوئ او مه بل چاته اجازه ورکوئ په تاسو ظلم وکړي.

د اسلام په اقتصادي نظام کې ټول اصول په یو دیني او اخلاقي بنیاد ولاړ دی چې معیار پکې حلال او حرام دي،اسلام د مال تر لاسه کولو او مصرفولو دواړو لپاره خپل اصول اوقوانین وضع کړي، تر څو نه څوک په غلطو طریقو سره مال تر لاسه کړي او نه یې په غلطواو بې رقمو لارو مصرف کړي. د دې ترڅنګ اسلام یو څه نور قیودات لکه قمار، احتکار، انحصاري بازار، اسراف او دې ته ورته نور قیودات هم وضع کړي ترڅو په یوه ټولنه کې د هر وګړي حق خوندي وساتل شي او بلاخره ټولنه له ظلم او تباهۍ څخه وژغورل شي.

لکه چې الله تعالی په قرانکریم کې فرمایلي:

« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ » (سوره النساء ۲۹).

ژباړه: اې هغه کسانو چې تاسو ایمان راوړی یعنې اې مؤمنانو! مه خورئ تاسی مالونه د یو بل په منځونو کې په ناروا سرهمګر هغه وخت یې و خورئ کله چې وي ستاسو تر مینځ ستاسو د خوښې او رضاعیت دوه اړخیزه سوداګري.

همدا راز د لګښت په هکله الله تعالی فرمایلي:

كُلُواْ وَاشْرَبُواْ وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ.(اعراف سورت ۳۱).

ژباړه: وخورئ او وڅښئ خو اسراف مه کوئ بیشکه الله تعالی اسراف کونکی نه خوښوي.

د قمار په هکله الله تعالی فرمایلي:

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ. » (مایده سورت ۹۰)

ژباړه: ای مومنانو بېشکه شراب، قمار ،او بتان همدارنګه هغه غشي چې تاسې پرې نېک او بد پال نیسئ دغه ډېر بد دي او د شیطان عملونه دي پس تاسې لۀ دې نه ډه ډه وکړئ او پۀ دې کار سره به تاسې بریالي شئ .

همدا راز، عبدالله بن عمر وایي چې رسول الله (ص) فرمایلي دي :

هیڅکله به جنت ته داخل نۀ شي هغه څوک چې د مور او پلار نافرماني کوي یا قمار وهي یا نیکي هیروي او یا همېشه شراب خوري .

سربېره پر دې، د ۲۰۰۸م کال نړیوال اقتصادي بحران ښيي، چې د کړکېچ اصلي لامل سود و. هغه بحران نړیوال و، ټولې مالي ادارې یې له امله زیانمنې شوې، مګر یوازې اسلامي بانکونو د زیان پر ځای ګټه کړې وه. دې بحران د اسلامي بانکونو ادعاوې کره ثابتې کړې.

د اسلام سپیڅلی دین موږ ته یو داسې اقتصادي نظام وړاندې کوي چې د پانګه وال او اشتراکي نظام تر منځ یو معتدل نظام دی. دغه نظام له کمونېزم سره د فردي ملکیت له منځه وړل نه مني، دپانګې دمساوي ویش پرځای عادلانه ویش غواړي او له کپېټلېزم سره مطلقه فردي آزادي نه مني، بلکې د دوی دواړو تر منځ یو درېیم نظر دی چې د بشر په فطرت برابر او د یو ښه ټولنیز عدالت رامنځ ته کوونکی دی. د ټولنې هر غړي ته فطري، شخصي او طبیعي حقوق هم ورکوي او تر څنګ یې په ټولنه کې د عوایدو د وېش توازن هم برابروي، یو طرف هر چا ته په خپل شخصي ملکیت کې د تصرف حق ورکوي او بل طرف ته یو ډول

پابندي هم لګوي، تر څو دغه مال په یو ځای کې جمع نه شي او په عادلانه ډول د وګړو ترمنځ انتقال ومومي او هر غړي ته خپله برخه وروسيږي، تر څو په ټولنه کې هر غړی په ارامی او سوکالی سره ژوند وکړي. دغه نظام کوښښ کوي چې د ټولنې د غړو اړین حاجتونه پوره کړي او د مادي اطمینان سره سره انسان ته روحي اطمینان هم وبښي. په داسې حال کې چې د انسان پواسطه جوړ شوي اقتصادي نظامونه یوازې مادي اطمینان بښي، د اسلام په اقتصادي نظام کې د عوایدو لاسته راوړل په داسې طریقې سره وي چې نورو خلکو ته پکې زیان ونه رسوي، د شخصي ګټې او ټولنیزې ګټې تر مینځ انډول باید موجود وي، په ګټه کې د غریبو او فقیرو حق بایدورکړي.

د اسلام په اقتصادي نظام کې زکات یوه مهمه وجیبه ده چې د ټکس تر څنګ ورکول کیږي، چې د اسلامي اقتصاد د عوایدو یوه اساسي منبع یا سرچینه ګڼل کیږي. همدار راز له زکات پرته، عشر ورکول، کفاره ورکول، خیرات او صدقه ورکول، بې وزلو سره مرسته کول، دا ټولې هغه وجیبې او الهي اوامر دی، چې د یوې ټولنې د عوایدو په ویش کې ډیر مهم رول لوبوی، ترڅو عواید په عادلانه ډول د وګړو ترمنځ انتقال وموم‍ي او د ټولنې هیڅ وګړی وږی پاته نشي.

لکه چې الله تعالی په قرانکریم کې فرمایلي:

لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا ۖ وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ ۗ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ. (بقره ۱۷۷)

ژباړه: نه ده نیکي یواځې دا چې وګرځوئ مخونه خپل په لمانځه کې په لور د مشرق او مغرب، لیکن غوره نیکي د هاغه چا ده چې ایمان یې راوړی وي په الله پاک او ایمان یې راوړی وي په ورځې اخری او په ټولو پرښتو او په ټولو کتابونو او ایمان یې راوړی وي په واړو انبیاؤ او ورکوي خپل مال په محبت د الله فقیرانو خپلوانو ته او ورکوي خپل ما په محبت د الله فقیرانو یتیمانو او مسکینانو ته او ورکوي خپل مال په محبت د الله مسافرو او ناداره سوالګرو ته او په ازادولو د غلامانو کې او سم په ترتیب ادا کوي لمونځ خپل او ورکوي زکات او وفا کونکي دې په وعدو خپلو کله چې دوی وعده کوي له خپل خالق او مخلوق سره او صفت کوو د صبر کونکو په سختیو او په رنځو کې او په وخت د جنګ په لاره د الله کې، دغه ستایلي شوي هغه خلک دې چې صدقات یې کړي دي او دغه کسان هم دوی دې پرهیزګاران ځان ساتونکې له ناوړه او بدو اعمالو څخه.

پورتني ټول ذکر شوي هدايات دپانګي دارتکازمخنيوی کوي چي د هغې په نتيجه کي پانګه په ګرده ټولنه کی ګردش او دوران کوي اودټولني ټول وګړي تري استفاده کوي چي همداداسلام د اقتصادي نظام غوښتنه ده.

که چېرته د اسلام دغه په فطرت برابرې لارښوونې عملي شي، د انسانانو اقتصادي حالت به دومره لوړ شي چې يو فقير به د نړۍ پر سر ونه موندل شي. د دې نظام ښې بېلګې د عمر بن عبدالعيزيز د خلافت دورهده چې هغه مهال اسلامي اقتصاد پلی کېده، ، داسې څوک به نه پيدا کيدل چې خلک خپل زکات هغه ته ورکړي، دزکات ټول عوايد به په بيت المال کې راټوليدل، هلته هېڅ قرضدار نه تر سترګو کېده، د بنی ادم له پيدايښته تر ننه پورې اسلام يوازينی اقتصادي نظام دی چې فقر له منځه وړلی شي خو که چېرته د اسلام دغه په فطرت برابرې لارښوونې عملي شي.

............